بل ځای ځان د سرای ناه آوازه شوی بلبل بولي:

چې ګوزر وکړي صبا د سرای پهٔ لوري
آوازه بلبل يې ياد پهٔ ګلزمين کړه

پهٔ سرای کښې د «ولی» او «افضل آباد» يادونه داسې کوي:

ګله صبا دی، باد مراد دی
چې يې ليدلی افضل آباد دی
راته يې ووې د حال پهٔ ژبه
تازه دې ګل او سرو شمشاد دی

+++

کوډن ته بويه ورا نې جلې
نارې پهٔ غرڅ کښې دڅخلې
ګلبانګ باه څهٔ کا د بلبلانو
زما ديوان دی باغ د «ولی»

+++

نسيمه وړشه د سرای سواد ته
لهٔ هغه پسه افضل آباد ته
سلامي وکړه پهٔ دواړو لاسو
دړو ديوار و ګل و شمشاد ته

۴- کاظم خان پهٔ ځوانه ځوانۍ کښې د زماني د ناخوالو لهٔ لاسه لهٔ «سوه» نه وتلی او پهٔ لوی هند کښې پرديس

د مړدې شهرت یې هم په مرد وزن دی
د فلک دشوارې وارې ورې آسانې

یا تورغر دی په همت کښې یا آهن دی
ښکار د غشي ، د توپک ، د باز ، شاهین کا

استاد شوی د هر علم ، د هر فن دی
ښه سوار دلري ، ښه خط ، ښه یې انشاء ده

الغرض چې په هر فن کښې مبرهن دی
که تر تا رسېدی نه شي کیله مه کړه

چې یاد شوی په هغه جهان دکن دی

+ + +

«گوهر» در دی د اخلاص په ښه صدف کښې
هره چار د افضل خان په حکم وکا

په تحقیق لروبر نه کا څوک غاړه
«افضلخان» یې په مرې که کز لکا

«بهادرخان»، «صیف خان» لمسي دي کله گل دي
خدای دې دواړه خانصاحب ته مبارک کا

+ + +

«خالد خان» د افضل خان جای نشین ؤ
د ېر احسان ورسره شوی ؤ خو بیا لاړ (۳)

+ + +

